پرانیستی لیک: کانادا باید د افغانانو سره د مرستې لپاره سمدستي ګام پورته کړي

مورې، د افغان سولې لپاره د کانادا کمپاین غړي، او لاندې لاسلیک کوونکي، په کانادا کې میشت افغانان، د کانادا مدني ټولنې غړي، نړیوال بنسټونه، فعالین، او په انفرادي ډول د افغانستان په اړه اندیښمن وګړي یوو. مورې په افغانستان کې د رامنځته شوي انساني ناورین له امله ډیر اندیښمن یو. د آزادۍ ، د قانون د حاکمیت، او بشري حقونو نه د دفاع په لاره کې، مورې د کانادا د حکومت څخه د یو پیاوړي دولت په توګه غوښتنه کوو چې د لا ډیرو افغانانو لپاره سمدستي د کډوالي زمینه برابر کړي، ژر تر ژره دي نور انساني مرستې چمتو کړي، د نړیوال بشردوستانه قوانینو په ملاتړ دي په فعاله ډیپلوماسۍ کې برخه واخلي او د نجونو، ښځو او قومي او مذهبي اقلیتونو حقونه د خوندیتوب لپاره دي غږ پورته کړي.

له افغانستان څخه د امریکایي او ناټو ځواکونو د ناڅاپي وتلو وروسته ، طالبانو په دغه هیواد یرغل وکړ. هغه پرمختګ چې کانادا په افغانستان کې د پرمختایی هڅو او نظامي ملاتړ له لارې کړی د طالبانو واکمني له خطر سره مخامخ کوي. د ښځو او انجونو د جبری ودیدلو خطر او د هغوی په کار کولو او تعلیم باندی ممانعتونه. ځینې ډلې په غیر متناسب ډول د طالبانو په لاس کې زیان منونکي دي ، لکه هزاره ټولنه ، افغان هندوان او افغان سیکان. دا ډلې له تاریخي پلوه اوسمهال له سیستماتیک تبعیض سره مخ دي او تاوتریخوالي بې ځایه کیدلو له خطر سره مخ دي. له ۳۵ میلیونو څخه زیات افغانان د بشري ناورین په زړه کې دي. د بشردوستانه چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر په وینا ، ۳۸۹،٦٤٥ افغانان په کور دننه بې ځایه شوي ، او زرګونه نور ګاونډیو هیوادونو ته تښتیدلي دي. دا د ۲.۷ ملیون افغانانو سربیره دي چې وار دمخه کډوال شوي دي.

مورې د افغانستان سره د کانادا د ملاتړ څخه من مننه کوو. چې په کښې د یو شمیر افغانانو لپاره د کډوالۍ ځانګړی برنامه شامله ده. د ۲۰۲۱ اګست په ۱۳مه نیټه، دولت اعلان وکړ چې کانادا به د ۲۰،۰۰۰ زیان منو افغانانو د کډوالی بهیر ګړندي کړي. پداسې حال کې چې اوسني اقدامات یو مثبت لومړی ګام دی، **مورې باور لرو چې کانادا باید د افغانستان څخه خپل ملاتړ پراخ کړي.** ډیری افغانان او د دوی کورنۍ په تیرو درېو لسیزو کې کانادا ته کډوال شوي. زمورې په څیر نور افغانان هم شته چې لاهم د ځان او کورنۍ لپاره د خوندیتوب او ښه راتلونکي په لټه کې دي؛ دوي پدې اړین وخت کې د کانادا ملاتړ ته اړتیا لري. مورې تاسو څخه هیله کوو چې لاندې غوښتنې پوره کړئ:

۱. د افغانانو لپاره د کډوالۍ پروګرام پراخ کړئ: د کډوالۍ اوسنۍ ځانګړی پروګرام پراخه کړئ چې لږترلږه ټاکل شوی درې برابره شي؛ په یاد پروګرام کې د ګډون شرایط کم کړي، د افغانستان مذهبي و قومي اقلیتونه لکه هندوان او د افغانستان هزارهګان دي په ځانګړي ګروپ کې شمال شي، د کاناډا سفارت د ګار د بندیدو په پام کې نیولو سره د پروګرام لپاره غوښتنلیکونو کې خنډونه لرې کړي او په کاناډا کې د میشتیدونکو ادارو او د افغانانو په مشرۍ بنسټونو سره په ګډه کار او ملاتړ وکړي.

۲. سمدستي بشردوستانه مرستې چمتو کړئ: غیر دولتي سازمانونو او په کاناډا کې بشردوستانه بنسټونو ته د تمویل له لارې د افغانستان لپاره بیړنۍ بشري مرستې او ملاتړ چمتو کړئ. دا به د ژوند ژغورنې اړین توکي لکه خواړه، کالي، کور، روغتیايي وسایل، د څښاک اوبه، طبي تجهیزات او د کروناوایرس واکسین چمتو کړي.

۳. په فعاله ډیپلوماسۍ کې ښکیل شئ: د ملګرو ملتونو عمومي غونډه کې او د ملګرو ملتونو امنیت شورا په څیر غونډو کې د فعاله ډیپلوماسۍ له لارې په نړیواله کچه په افغانستان کې د بشري حقونو په ملاتړ ونډه واخلئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د واکمن ځواک سره هرډول خبرې اترې په تیرو ۲۰ کلونو کې د دیموکراسۍ، بشري حقونو، د بیان ازادي ، د قانون حاکمیت ، او د انجونو او میرمنو لپاره د تعلیم په برخه کې د ترلاسه شوي پرمختګونو پر ساتنه باندي مشروط وي.

٤. د نجونو ، میرمنو، او قومي او مذهبي اقلیتونو د حقونو په ساتلو ټینګار وکړي: د افغانستان د حکومتدارۍ او واک په دې نازک حالت کې د انجونو، میرمنو، او مذهبي او قومي اقلیتوو نه د ملاتړ په لاره ګام پورته کړي. په افغانستان کې د دې ډلو امنیت او محافظت تضمین کولو او همدارنګه د دوی د بیا میشته کیدو ته لومړیتوب ورکړي.

افغانستان په داسي یو ناورین کې بند چې استثنایی او سمدستي مرستو ته اړتیا لري. په طالبانو باور نشي کیدای چې بشري حقونو او د قانون حاکمیت ته درناوی وکړي. مورږ ده دي ستاینه کوو چې کاناډا په ټوله نړۍ کې د سولې ، پراختیا او بشري حقونو په وده کې نړیوال اتل دی. کاناډا کولی شي همدا اوس اغیزمن فعال رول ادا کړي. یوازي ارداه په کار ده. مورږ ستاسو په ملاتړ حساب کوو.